مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۰۴** (از ۱۸ الی ۲۵ دلو ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### د افغانستان، چین او پاکستان جیو-پولېټیکه ملګرتیا

- شالید ........ ۳
- افغانستان-پاکستان اړیکي او وروستي بدلونونه ........ ۴
- د چین او پاکستان ستراتېژیکه ملګرتیا ........ ۵
- افغان-چین اړیکې ........ ٦
- د افغانستان په تړاو د چین بهرنی سیاست ........ ۷

### روزی که ارتش سرخ افغانستان را ترک گفت

- تلفات جنگ ........ ۹
- اشتباهات رهبران مجاهدین ........ ۱۰
- دست‌آورد جنگ بر سر قدرت ........ ۱۲

## مقدمه

کابل د تېرې دوشنبې په ورځ (د فبرورۍ په ۹مه) د افغانستان، چین او پاکستان د یوې داسې درې اړخیزې غونډې کوربه و، چې اصلي محور یې د افغان حکومت او وسله والو مخالفینو ترمنځ د سولې موضوع وه. که څه هم دا غونډه د رسنیو له حضور پرته ترسره شوه او ویل کېږي چې له طالبانو سره د سولې په اړه ځینې مهم توافقات هم پکې شوي دي؛ خو د خبرو اترو پوره جزئیات یې لاهم نه دي روښانه شوي.

د افغانستان، چین او پاکستان ترمنځ د درې اړخیزو غونډو د لړۍ پیلېدو ته له دې کبله هم ځیلې زیاتې دي، چې په دې وروستیو کې افغان طالبانو هم چین ته یو پلاوی استولی و او دا یې منلې وه، چې د دوی پلاوي په بېجینګ کې له چینایي چارواکو سره کتلي دي. چین ولې افغانستان ته پاملرنه زیاته کړې؟ او آیا چین به په رښتیا هم وکړای شي، چې د افغانستان د قضیې ښکېل لوري د سولې د خبرو مېز ته کېنوي؟

د همدې موضوع او دغه راز په دویمه برخه کې له افغانستانه د شوروي اتحاد ځواکونو د وتلو د ۲۶مې کلیزې د پوره کېدو په تړاو، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د څېړنیزې څانګې شننې لولئ.

# د افغانستان، چین او پاکستان جیو-پولېټیکه ملګرتیا




په کابل کې د فبروری په ۹مه د چین، افغانستان او پاکستان د بهرنیو چارو مرستیالو وزیرانو د درې اړخیزې ناستې له جوړېدو سره، په افغانستان کې د چین د اغېزناک رول په اړه خوشبیني زیاته شوې ده. ډېری شنونکي په دې اند دي، چې د نورو لاملونو ترڅنګ، چین پر پاکستان هم زیات نفوذ لري او د افغانستان په قضیه کې مثبت رول لوبولی شي.

په کابل کې د درې واړو هېوادونو د ډیپلوماتانو له غونډې سملاسي وروسته د پنجشنبې په ورځ (د فبروری په ۱۲مه) د چین د بهرنیو چارو وزیر "وینګ لي" د یوه جګپوړي پلاوي په ملتیا له پاکستاني چارواکو سره په دوه اړخیزو اړیکو او سیمه ییزو مسایلو د خبرو لپاره د پاکستان پایتخت اسلام اباد ته ولاړ.

چین په سیمه کې له ټولو هېوادونو سره ښې اړیکې لري او د یوه داسې هېواد په سترګه ورته کتل کېږي، چې د سیمې په هېوادونو کې سوله غواړي؛ له همدې امله یې په دې وروستیو کې په ځینې مهمو سیمه ییزو مسایلو کې خپل رول پراخ کړی دی.

## شالید:

افغانستان له چین سره ډېرې لرغونې اړیکې لري او د اړیکو مخینه یې ان تر قبل المیلاد پورې رسېږي. په دې اړه ویل کېږي چې چین خپل لومړنی سفیر د کوشانیانو په وخت کې افغانستان ته رالېږلی و او د دې ترڅنګ دغو دواړو لرغونو هېوادونو پر یو بل باندې، له فرهنګي او اقتصادي پلوه هم ژورې اغېزې ښندلې دي. د

افغانستان له لارې چین ته د بودایي دین ترویج وشو او افغانستان بیا له اقتصادي پلوه د چین د وربښمو په لاره کې له چین سره ونښلول شو، چې هغه مهال یې زموږ هېواد په اقتصادي توګه ډېر ځواکمن کړی و او د دریو لویو وچو د ترانزیټ او تجارت مرکز و.

په بل اړخ کې بیا د تاریخ په اوږدو کې د اوسني پاکستان ډېری سیمې او کله هم ځینې سیمې د افغانستان د قلمرو یوه برخه پاتې شوې، چې بالآخره په ۱۹مه پېړۍ کې دا سیمې، چې د بلوچستان ډېری سیمې او د خیبر پښتونخوا ایالت پکې شامل وو، د ډېورنډ کرښې او ګندومک تړون له کبله له افغانستانه جلا او په انګلیسي هند کې مدغم شوې.

د پاکستان له آزادېدو سره سملاسي دغه سیمې د پاکستان د یوې برخې په توګه تر پوښتنې لاندې راغلې او له همدې ځایه افغانستان هم په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د غړیتوب پرخلاف، د رد یوازېنۍ رایه وکاروله. که څه هم کابل ډېر ژر خپله د رد رایه بېرته واخیسته او خپل سفیر یې پاکستان ته واستاوه؛ خو له هماغه وخت وروسته افغانستان او پاکستان د اړیکو له کړکېچنو پړاوونو راتېر شو، چې په وروستي پړاو کې، په افغانستان کې د نوي حکومت له جوړېدو سره، له چین سره د اړیکو د پیاوړتیا لپاره د هلو-ځلو ترڅنګ، له پاکستان سره هم د اړیکو رغولو هڅې پیل شوې دي.

## افغانستان-پاکستان اړیکې او وروستي بدلونونه

له تېرو شپږو لسیزو راهیسې، افغانستان له پاکستان سره په خپلو اړیکو کې ډېرې لوړې-ژورې لیدلې او په ډېرو کمو وختونو کې له یو بل سره په نېژدې اړیکو کې پاتې شوي دي. عمده لامل یې د دواړو هېوادونو تکرېدونکې بهرنۍ چارې وې؛ د افغانستان له خوا د پښتونستان قضیه او د پاکستان له اړخه د ستراتېژیک عمق فلسفه د یادولو وړ دي، چې د اړیکو په خرابولو کې یې عمده رول لوبولی دی.

کله چې اشرف غني په خپل وروستي سفر کې پاکستان ته یو لړ امتیازات ورکړل[1] او بیا په پېښور کې پر یوه پوځي ښوونځي برید وشو، نو په پټو ملاقاتونو او د پاکستاني چارواکو له سفرونو څرګنده شوه، چې پاکستان هم

[1] اشرف غني پاکستان ته ځینې امتیازات ورکړل، لکه: د پاکستان له خوا د افغان اردو روزنه؛ له هند څخه د درنو وسلو رانیولو د قرارداد فسخ کول.

خپل سیاست تر یوه بریده بدل کړ. مګر وروستیو اړیکو دا شکونه هم زیات کړي، چې ګویا افغانستان بیا هم د خوشباورۍ قرباني کېږي.

په دې اړه داسې تحلیلونه هم شته، چې افغانستان تراوسه له پاکستان څخه هېڅ امتیاز نه دی ترلاسه کړی، خو پاکستان د سولې په پروسه کې د همکارۍ په ژمنو، لاندې امتیازات ترلاسه کړي:

- د افغانستان له لوري له هند څخه د وسلو د رانیولو قرارداد ځنډول؛
- پاکستان ته د پوځي روزنې لپاره د شپږ تنو افغان پوځیانو استول؛
- پاکستان ته د لطف الله محسود سپارل؛
- د پاکستاني توکو د لېږد ګمرکي تعرفه راکمول؛ خو د افغان سوداګرو د ترانزیټي ستونزو دوام؛
- د ملګرو ملتونو او پاکستان ترمنځ د شوې هوکړې خلاف له پاکستانه د افغان کډوالو په زوره ایستل.

له دې سره سره، لاهم داسې تمې شته چې د پاکستان په پالیسیو کې به د بدلون څرک ولیدل شي. دا تمې د دواړو هېوادونو اړیکو ته د چین د راښکېلېدو په څېر نور لاملونه هم لري؛ خو په افغانستان کې د امنیتي حالت ښه کېدل او د سولې او ثبات ټېنګښت هم، د پاکستان پر اقتصادي پرمختګ ښې اغېزې لرلی شي؛ ځکه یو ستره پروژه[2] به، چې د پاکستان-چین انرژۍ حوزه ده، له افغان پولې سره نژدې سیمو څخه تېرېږي او یا به هم له هغو سیمو تېرېږي، چې اوس هلته امنیتي وضعیت خراب دی، لکه: قبایل، ګلګت او بلتستان.

## د چین او پاکستان ستراتېژیکه ملګرتیا

کله چې هند له چین سره په ۱۹۶۲ کال د (اکسیچن) د سیمې پر سر په یوه جګړه کې ښکېل شو، نو دغې پېښې د چین لپاره د پاکستان ارزښت خورا ډېر کړ. له همدې پېښې وروسته، چین له پاکستان سره په یوه نااعلان شوي ستراتېژیک او امنیتي ایتلاف کې ننوتی دی. اوسمهال د چین او پاکستان ترمنځ دغه اړیکې د هغې امریکايي تګلارې له کبله نورې هم نېږدې شوې، چې د چین د پورته کېدونکي ځواک مهارولو او په سیمه کې د چین د ځواک د انډول ساتلو پرخلاف د هند پر قوي کولو راڅرخي.

---

[2] د پاکستان-چین د انرژۍ حوزه، چې ویل کېږي ۴۵ ملیارده ډالره پانګونه په پرې کېږي.

## افغان-چین اړیکې

افغانستان د چین له خلکو جمهوریت سره په تېرو شپږو لسیزو کې اړیکې لرلې؛ دغه اړیکې تر ۱۹۷۸ کال پورې ډېرې گرمې وې؛ خو بیا هم له نړیوالو بدلونونو څخه اغېزمنې او چین د خپلو نورو گاونډیانو په پرتله، له افغانستان سره خپلو اړیکو ته ډېره پاملرنه نه کوله.

چین په (۱۹۵۵-۱۹۷۸) پړاو کې د (۱۹۷۸-۲۰۰۱) پړاو په نسبت د افغانستان له دولت سره ډېرې ښې اړیکې درلودې. چین په دغه پړاو (۱۹۵۵-۱۹۷۸) کې غوښتل، چې په افغانستان کې د خپلو دوو رقیبانو (هند او شوروي)، چې په لومړي سر کې ملگري خو وروسته په دښمنۍ کې سره ښکېل شول، اغېزې راکمې کړي[3]. خو په دویم پړاو (۱۹۷۸-۲۰۰۱) کې د شورویانو د یرغل او د افغانستان د کورنۍ جگړې له کبله چین د افغانستان له دولت سره همکاري او اړیکې نه لرلې.

د کرزي د دویمې دورې په پیل کې د کابل اړیکې له بیجینگ سره مخ په نېژدې کېدو شوې، دغه نېژدې کېدونکې اړیکې د آمو حوزې، د مېس عینکو د قرارداد په اخیستلو او په افغانستان کې تر ټولو زیات پانگه اچوونکې بهرنۍ[4] هېواد په توگه راڅرگندې شوې.

په چین کې هم د زي جینپینگ له واک ته رسېدو سره، د چین په بهرنیو چارو کې د بدلون څرک ولیدل شو. زي جینپینگ د لوېدیځ په لور خپله پاملرنه زیاته کړه او د چین د وربښمو د نوې لارې پر بیا راژوندي کولو بوخت شو او ترڅنگ یې له هند، بنگله دیش او پاکستان سره اقتصادي حوزې هم جوړې کړې. دا چې په افغانستان کې ثبات او استقرار د چین د دغو سترو پروژو لپاره بنسټیزه اړتیا ده، نو ځکه یې په ۲۰۱۲ کال کې له ۴۶ کلونو وروسته د چین د کمونست گوند "پولېټ بیورو" غړی کابل ته په یوه سفر راولېږه.

[3] چین د ۱۹۵۰مې لسیزې په پیل کې له شوروي او هند سره ډېرې نېژدې اړیکې لرلې؛ خو له شوروي سره یې اړیکې بیا له ۱۹۶۰ کال راهیسې خرابې شوې او په ۱۹۶۹ کال کې یې ورسره د پولې پر سر یوه وړه جگړه هم وکړه. له هند سره یې اړیکې له ۱۹۵۹ کال راهیسې خرابې شوې، کله چې چین په تبت کې عملیات پیل کړل او په ۱۹۶۲ کال کې د اکسیچن د سیمې پر سر دواړه په یوه جگړه کې هم ننوتل.

[4] Foreign Direct Investment (FDI)

اوسمهال اشرف غني هڅه کوي، چې له اقتصادي پلوه ځواکمن چین، افغانستان ته له اقتصادي اړخه لازيات رادننه کړي او له بلې خوا يې پر پاکستان زيات نفوذ ته په کتو سره، د افغانستان د سولې په قضيه کې هم رغند رول ولوبوي.

## د افغانستان په تړاو د چین بهرنی سیاست

چين په ۲۰۱۲ کال کې د پاکستان-چين-افغانستان د تحقيقاتي مرکزونو ترمنځ کنفرانسونه له بيجينګه پيل کړل، چې دويمه غونډه يې بيا په ۲۰۱۴ کال کې په اسلام آباد کې وشوه او درېيمه به يې په راتلونکي کال کې په کابل کې جوړه شي.

په ټوليز ډول چين په خپل بهرني سياست کې د افغانستان په لور پاملرنه زياته کړې او په دې تړاو يې تراوسه لاندې ګامونه اوچت کړي دي:

**لومړی:** چين له طالبانو سره ان د دوی د امارت پرمهال هم اړيکې لرلې؛ خو ويل کېږي په تېر يوه کال کې چين له طالب پلاويو سره دوه ځله ليدلي. طالبانو په دې اړه په خپله اعلاميه کې ويل، چې د دغه سفر موخه چين له خپل دريځ څخه خبرول وو؛ مګر د دغو خبرو اترو نور جزئيات لا تراوسه نه دي په ډاګه شوي.

**دويم:** چين له افغان حکومت سره ښې اړيکې لري او په افغانستان کې يې تراوسه تر ټولو زياته پانګونه کړې ده. چين په وروستۍ دري اړخيزې غونډه کې هم، په جنګ ځپلي او له پاکستان سره پر پوله پارته ولايت "کونړ" کې د اوبو بند او برېښنا فابريکې د جوړولو ژمنه وکړه او د دې ترڅنګ غواړي، چې افغانستان له پاکستان سره د اورګاډي پر پټلۍ ونښلوي. د دې کار يوه ګټه به دا هم وي، چې افغانستان به هم د چين-پاکستان انرژي حوزې يوه برخه شي او د دغو هېوادونو ترمنځ به تجارت هم څو چنده شي.

**دريم:** چين په تيرو څو مياشتو کې له امريکا او افغان دولت سره په شريکه د افغانستان د ستونزې په اړه پټې غونډې درلودلې دي، چې دا بيا په رښتيني توګه ښيي، چې چين په منځنۍ اسيا او په تېره بيا په افغانستان کې ډېر رول لوبول غواړي.

دغه غونډې او له طالبانو سره خبرې اترې داسې مهال ترسره کېږي، چې په سيمه کې د "اسلامي دولت" ډلې د موجوديت ګنګوسې او بحثونه راپورته شوي او يو شمېر د چين تبعه هم د دغې ډلې له خوا وژل شوي دي.

دا چې چین به په نېژدې راتلونکي کې د نړۍ د لومړي ځواک په توګه راپورته شي، له نورو ځواکونو په تېره بیا له امریکا څخه وېره لري. همدا راز چین د خارجي اندېښنو ترڅنګ په یوه داسې داخلي قضیه (سنکیانګ) کې ښکېل دی، چې د خپلو رقیبانو له خوا له دې موضوع څخه، له ناوړه ګټې پورته کونې اندېښنه لري.

د دې ترڅنګ په بدخشان کې د وضعیت خرابېدل، د القاعدې له خوا د چین پرخلاف د جګړې اعلان، د پاکستان-چین انرژۍ حوزه او د ورېښمو نوې لاره هغه نور لاملونه دي، چې کابل کې یې تر ډېره دې ته خوشبین کړی، چې ښايي چین به د افغانستان په اقتصادي پیاوړتیا، له طالبانو سره د سولې او د افغانستان-پاکستان په اړیکو کې اغېزناک رول ولوبوي.

# روزی که ارتش سرخ افغانستان را ترک گفت



۱۵ فبروری (۲۶ دلو) مصادف با ۲۶مین سالروز خروج نیروهای اتحاد شوروی از افغانستان است. نیروهای ارتش سرخ اتحاد شوروی در زمستان ۱۹۷۹ به افغانستان هجوم آوردند و با کشتن حفیظ الله امین دیکتاتور کمونیست وابسته به جناح خلق حزب دیموکراتیک خلق افغانستان، ببرک کارمل از جناح پرچم همین حزب را به قدرت رسانیدند. از آغاز کودتا در بهار ۱۹۷۸ تا هجوم ارتش سرخ به افغانستان در زمستان ۱۹۷۹، بیش از ۳۰ هزار تن از مردم افغانستان از اقشار مختلف جامعۀ این کشور بدست این رژیم کشته شدند.

سرانجام قیام ملت، امکان بقای رژیم را به مخاطره انداخت و از جانب دیگر مخالفت میان دو جناح حزب کمونیست وابسته به ماسکو، نیز این رژیم را مواجه به مشکلات داخلی ساخت. بنابراین اتحادشوروی برای حفظ و بقای حکومت دست نشانده‌اش در کابل، به افغانستان حمله‌ور شد.

## تلفات جنگ:

در این جنگ حدود یک‌ونیم ملیون نفر از مردم افغانستان کشته شدند و ملیون‌ها تن نیز مجبور به ترک کشور گردیدند. جنگ اتحاد شوروی در افغانستان، حدود ده سال به طول انجامید و اتحاد شوروی نیز در این جنگ بهای سنگینی پرداخت.

در افغانستان بین سال‌های ۱۹۷۹ تا ۱۹۸۹ به تعداد ۱۴۴۵۳ نفر نظامی شوروی کشته شد که از جمله ۹۵۱۱ نفر در نبردها و ۲۳۸۶ نفر به اثر جراحات مردند یا خودکشی کردند و یا به اثر بیماری‌ها از بین رفتند. در طول جنگ در افغانستان به تعداد ۴۱۷ نظامی شوروی مفقودالاثر و یا اسیر شدند. ۱۱۹ سرباز و افسر از اسارت آزاد شدند، و ۲۲ نفر در کشورهای دیگر مسکن‌گزین گردیدند.

جنگ پدیدهٔ مصیبت‌بار است، اما برای افغان‌ها دردناک‌تر از خود این جنگ، پایان جنگ بود که حاصل خون‌ها و قربانی‌های یک ملت در میدان نبرد، در اثر اشتباهات رهبران مجاهدین بی‌نتیجه ماند. رهبران مجاهدین در ساختن نظامی که برای مردم صلح و امنیت و یک زندگی بهتر به ارمغان آورد عملاً ناکام ماندند و درگیر جنگی خونین و بی‌حاصل در میان خود گردیدند.

شاید در مورد دست‌آورد مردم افغانستان در جنگ با ارتش سرخ، بتوان به شکست نیروهای تجاوزگر اشاره کرد. خیلی از افغان‌ها به این باور اند که فروپاشی اتحاد شوروی نتیجهٔ قربانی‌های آنان بود که حتی مردم روسیه را نیز از شرِ یک نظام خودکامه نجات بخشید، اما حضور نیروهای بیش از پنجاه کشور در افغانستان بعد از یازدهم سپتامبر سال ۲۰۰۱، این سوال را مطرح می‌سازد که آیا افغان‌ها قربانی نبرد آزادی‌بخش به خاطر آزادی دیگران نشدند؟

## اشتباهات رهبران مجاهدین:

وقتی به گذشته می‌نگریم، به این نتیجه می‌رسیم که در نبردی که افغان‌ها بخاطر آزادی کشور شان از نیروهای ارتش سرخ و تحقق یک نظام اسلامی به راه انداختند، اشتباهات بزرگی را مرتکب شدند که در نتیجه بعد از آزادی کشور شان، به جای رسیدن به صلح و ثبات و امنیت، درگیر جنگ داخلی شدند و آرمان‌هایی که بخاطرش ملت آن‌همه قربانی داد، نقش بر آب گردید که بعضی از آن اشتباهات را می‌توان چنین برشمرد:

1. مجاهدین به گروه‌های متعدد تقسیم شده بودند که میان شان رقابت شدید نظامی و سیاسی وجود داشت. رقابت بر سر کنترول مناطق آزاد شده و رقابت بر سر به دست آوردن بیشترین کمک‌های خارجی، در مواردی به درگیری‌های خونین میان خودشان منجر گردید. دشمنی‌ها و بی‌اعتمادی‌های برخاسته از این دوره، بعد از خروج نیروهای شوروی، خود را در جنگ میان گروه‌ها بر سر کنترول کابل پایتخت، به شکل دردناکی به نمایش گذاشت.
2. در کنفرانس "ژنو" که زمینه را برای خروج نیروهای شوروی از افغانستان مساعد ساخت، مجاهدین به این دلیل که دولت کابل در آن شرکت داشت، سهم نگرفتند و به جای مجاهدین، نمایندهٔ پاکستان در کنفرانسی نهایت مهم برای آیندهٔ افغانستان از مجاهدین نمایندگی کرد. دادن چنین امتیازی به پاکستان، موجب شد تا این کشور در افغانستان دست باز بیابد و امریکا نیز این موقف را برای پاکستان پذیرفت.
3. جنگ سرد پایان یافته بود، اما رهبران مجاهدین هنوز هم اوضاع را با معیارهای دوران جنگ سرد تجزیه و تحلیل می‌کردند. آن‌ها هنوز هم گمان داشتند که رقابت میان شرق و غرب همچنان به حال خود باقیست و غرب برای مقابله با شوروی هنوز هم به مجاهدین افغان ضرورت دارند.
4. هر کدام از گروه‌های مجاهدین از ضرورت برقراری نظام اسلامی در افغانستان سخن می‌گفتند، ولی در مورد جزئیات این نظام در طول ۱۴ سال جهاد، هیچ بحث جدی صورت نگرفت و همسویی و همفکری به میان نیامد. به عنوان

مثال، حتی در مورد انتخابات نیز وحدت نظر وجود نداشت. حکمتیار به ضرورت انتخابات تأکید داشت، اما سایر رهبران در این مورد یا خاموش بودند یا مخالفت می‌کردند. مثلاً مولوی محمد یونس خالص انتخابات را خلاف شریعت می‌دانست. در مورد آموزش زنان نیز میان این گروه‌ها اختلاف وجود داشت.

5. مجاهدین از تحولی که با سقوط حکومت داکتر نجیب الله در راه بود، هیچ تصور روشنی نداشتند و در نتیجه با وجود اینکه زمان کافی برای آماده شدن داشتند، غافلگیر شدند. امریکا نیز از برنامۀ سازمان ملل متحد که توسط "بنین سیوان" برای انتقال مسالمت‌آمیز قدرت در افغانستان صورت می‌گرفت، حمایت جدی نکرد و در نتیجه این برنامه با شکست مواجه شد.
6. مجاهدین هیچ نقشی برای دولت داکتر نجیب در آیندۀ کشور قایل نبودند. به عبارۀ دیگر مجاهدین از موقع، به شکل درست و به موقع استفاده نکردند. رهبرانی که قبلا حتی تفاهم با داکتر نجیب را خیانت به آرمان‌های جهاد می‌دانستند، بعداً حاضر شدند برای تضعیف همدیگر حتی با ملیشه‌های داکتر نجیب کنار بیایند.
7. نیروهای مسلح کشور را دشمن و قاتل ملت می‌دانستند که باید منحل می‌شدند درحالیکه بدنۀ این نیروها از ملت تشکیل شده بود و می‌شد تا با تغییر در رهبری، از این نیرو برای جلوگیری از جنگ و ناامنی در کشور استفاده کرد. این نیروها را رژیم کمونیستی به میان نیاورده بود که باید از میان می‌رفت بلکه در نتیجۀ ده‌ها سال رنج و تلاش در دوره‌های مختلف شکل گرفته بود.
8. مجاهدین دچار این اشتباه شدند که چون خدمت بزرگی به غرب انجام داده‌اند، بنابراین امریکا و غرب با تمام نیرو، در کنار حکومت آنان خواهد ایستاد که این تصور شان به کلی غلط بود. امریکا حتی قبل از سرنگونی رژیم داکتر نجیب، این جنگ را از نظر منافع خود پایان یافته به شمار آورده بود.
9. مجاهدین چنان از پیروزی در این جنگ مغرور شدند که هیچ نیازی به جلب اعتماد کشورهای همسایه و منطقه احساس نکردند و در نتیجه بعد از سقوط حکومت کابل، به جنگ نیابتی میان کشورهای همسایه و منطقه کشانده شدند.

در کنار این اشتباهات، تحولات منطقوی و جهانی هم بر وفق مراد مردم افغانستان نبود. از آن جمله اینکه یکی از طرف‌های اصلی تعهد کننده در قرارداد ژنو یعنی اتحاد شوروی، ناگهان فروپاشید و از میان رفت.

## دست‌آورد جنگ بر سر قدرت:

هدف از شعله‌ور ساختن جنگ میان گروه‌های مجاهدین، رسیدن به اهداف ذیل بود:

1. جلوگیری از به میان آمدن یک نظام اسلامی در افغانستان.

2. محو آثار جهاد از ذهن امت اسلامی، با به میان آوردن یک جنگ داخلی خونین در این کشور و مترادف به شمار آوردن جهاد با افراط گرایی و تروریسم.

3. از میان بردن مخازن اسلحه در افغانستان در این جنگ داخلی «نیروهای شوروی هنگام خروج، بر اساس بعضی از آمارها بیش از ۲۵۰۰ تانک، حدود ۵۰۰ طیارۀ جنگی و ترانسپورتی، موشک‌های اسکاد و لونا، بیش از ۵۰۰۰ واسطۀ نظامی، و مخازن عظیمی از سلاح‌های سنگین و مهمات در افغانستان باقی گذاشتند که همه در جنگ داخلی نابود شد».

4. تغییر چهرۀ مجاهدین در رسانه‌های غرب از کسانی که برای برقراری نظام اسلامی جنگیدند، به کسانی که فقط برضد روس جنگیدند و هدف دیگری نداشتند.

جنگ بعد از سرنگونی رژیم نجیب در افغانستان، نه تنها برای مردم افغانستان بلکه برای تمام امت اسلامی مصیبت‌بار بود. آن‌هایی که از اقصا نقاط جهان اسلام برای کمک به مردم افغانستان در جنگ علیه اتحاد شوروی شتافتند و قربانی دادند، بعدا به عنوان تروریست در همه جا تحت تعقیب قرار گرفتند و بسیاری از آنان زندانی و کشته شدند.

نتیجۀ جنگ داخلی به ما می‌آموزد که پیروزی در جنگ، فقط با راندن دشمن تجاوزگر از کشور به دست نمی‌آید بلکه زمانی می‌توان از پیروزی سخن گفت که خروج نیروهای بیگانه از کشور، به صلح و تفاهم میان افغان‌ها بیانجامد و زمینۀ زندگی با عزت برای ملت فراهم آید.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (+93)